# سرور خان اڅکزے

# يو پښتون مبارز

صادق ژړک

په کومه خاوره چې چرته ظلم او زياتے زيات شي نو په هغه خاوره د دغه ظلم او زياتي په خلاف يو داسې حرکت راپېدا شي چې هغه د دغه ظلم او زياتي ديوالونو نهه په ړنګولو بوخت شي. هم دغسې مسئله زمونږ په پښتنه خاوره له پېړيو پېړيو راهيسې راروانه ده. په هر دور کښې د دې خاورې ځوانانو د ظالم په ضد د مقاومت سنګر تود ساتلے دے او پردي قدمونه يې په خپله خاوره نۀ دي زغملي. له تېرو سلو کالو راهيسې چې زمونږ په خاوره خارجي قوتونو کومه لوبه روانه کړې ده له دغې لوبې سره نن ټول خلق اشنا دي. کوم ظلم چې پېرنګي سامراج په پښتو باندې وکړو د هغې مثال په شلمه پېړۍ کښې نۀ شي موندل کېدے خو د دې ظلم په مقابل کښې په هم دومره زور په دې خاوره يو سپېڅلے غورځنګ د بابا ملنګ فخر افغان باچاخان په مشرتابه کښې پېل شو. دا دومره سپېڅلے او عملي غورځنګ ؤ چې په ډېره لږه موده کښې يې د پښتونخوا ګوټ ګوټ ته غزونې وکړې. په زرګونه پښتانۀ د سر او مال قربانۍ ته اماده شول. په شعوري ډول ځوانان وروزل شول، د پښتونخوا وطن د نورو سيمو په څېر په سهيلي پښتونخوا کښې هم د دې غورځنګ اثرات پرېوتۀ. کومو کورنيو چې په وړومبي ځل د دې غورځنګ اثرات قبول کړل په هغو کښې يوه کورنۍ د کوږک د لمن د ملک ايوب خان پيرعليزي کورنۍ وه چې په شريکه له دې غورځنګ سره په شعوري ډول ملګرې شوه. ارواښاد ملک ايوب خان پيرعليزے، د سهيلي پښتونخوا د هغو وړومبنو پښتنو څخه دے چې پېرنګي سامراج د باچاخان د ملګرتيا په تور په جېلخانو کښې وساتلو. دغه تکړه مشر هېڅکله له خپله هوډه په شا نۀ شو او په کور کښې يې داسې ګلان راوټوکېدل چې هغه بيا ترپايه د دې غورځنګ دپاره د افتخار وړ وګرځېدۀ. په دغو کښې يو ارواښاد سرورخان پيرعليزے دے چې د ارواښاد ملک محمد ايوب خان زوئے دے چې له تنکۍ ځوانۍ څخه ئې رانيولې بيا د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې د باچاخان د عدم تشدد په فلسفه د يوه مړني پښتون په صفت ولاړ ؤ. ارواښاد سرور خان پيرعليزے چې د سهيلي پښتونخوا پښتنو به له ډېره نازه کاکاجي ورته وئيل د هغۀ لويه وجه دا وه چې کاکاجي تر ذاتي ګټو بالاتر د خلقو ګټې په پام کښې نيولې ځان ئې هېر ؤ، د ځپلي پښتانۀ اولس او جهان غم ورسره ؤ لکه شاعر چې وائي:

ډېر تفاوت دے په انسان کښې د معنا په لحاظ
واړه لګیا دي ځینې ځان ځینې جهان جوړوي

اروابناد کاکاجي د باچاخان په دې سپېڅلي غورځنګ کښې د یوه سپېڅلي سپاهي کردار ولوباوۀ ډېرې ستونزې او کړاوونه ئې وګالل له ډېرو قبائلي دشمنیو سره مخ شو خو دې تکړه او با شعوره پښتون د ننګ په مېدان په عدم تشدد دومره پوخ یقین لرو چې څوک ئې تصور هم نۀ شي کولے. کاکاجي تش په خلۀ پښتون نۀ ؤ بلکې یو عملي پښتون ؤ، په یوه سپېڅلي پښتانۀ کښې چې کومې خوبئ په کار وي هغه خوبئ په اروابناد کاکاجي کښې موجودې وې.

تش په نامه پښتنو دے په دې څو ځله مجبور کړو چې دے او د دې قبیله د باچاخان ملګرتیا پرېږدي څو ځله قاتلانه حملې پرې وشوې خو دا د نر بچے نۀ یواځې له دې غورځنګ سره ټینګ ودرېدۀ بلکې خپله قبیله ئې په قلعه عبدالله غوندې ضلع کښې چې د نفاق او دښمنۍ توهم په کښې کړلے شوے دے له دې قبائلي دښمنیو څخه وژغورله چې دغه کار هم د اروابناد کاکالجي غوندې انسان کولے شوے.

کاکاجي د دې ټولو صفاتو خاوند څکه ؤ چې کاکاجي د پښتنو د خدمت تر څنګ د تاریخ یو ښۀ لوستونکے هم ؤ او د پښتو ادب سره ئې دومره مینه وه چې په کلاسیکو شاعرانو کښې ئې خوشحال خان خټک دومره مطالعه کړے ؤ چې د خوشحال خان خټک زیاتره اشعار ئې په یادو زده وو. د خپل عصر په شاعرانو کښې ئې د ګل باچا الفت، عبدالروف بېنوا، قاضي ملا سلام بابا او غني خان دومره خوښ ؤ چې د دوي ټولو شاعرانو هغه شعرونه ئې په یادو زده وو چې د پښتني ټولنې دپاره لیکل شوي وو. په ځوانانو کښې ئې ښاغلے رحمت شاه سائل زیات خوښ ؤ او له سیال کاکړ سره ئې هم ډېره مینه وه.

کاکاجي به زیاته په نجي مجلسونو کښې د دستار په اړه خبرې کولې او د دستار د خاوندانو په اړه به ئې خپله او د خوشحال خان خټک نظریه بیانوله. دے به په دې ډېر ځورېدۀ چې کله ځینو نامردو پښتنو په کومه سرکاري غونډه کښې پښتني دستار پردیو ته ور په سر کوو. یو وخت ما په دې اړه د رحمت شاه سائل صاحب دغه شعرونه ووئیل:

دا پګړۍ پردو ته ور په سر نۀ کړې پیدا به شي
زۀ له ډېره وخته نه یو سر په خوب کښې وینمه

د دې شعر په اورېدلو سره اروابناد کاکاجي ډېر خوشحاله شو او وئې وئیل چې رښتیا شاعر د ټولنې ترجمان وي. مونږ خو تش په دې عمل ځورېدو او سائل ئې دومره ځورولے دے چې شعر



ئې ورباندې لیکلې دې.

اروابناد کاکاجي د ډېرو صفاتو خاوند ؤ. هغه د پښتو ټپه ده:

ستا د ښائست ګلونه ډېر دي
څولۍ مې تنګه زۀ به کوم کوم ټولومه

لهٰذا چې سرور خان کاکاجي يو پښتون مبارز ؤ په ډېره مړانه او نرتوب ئې د مقاومت سنګر تود ساتلې. په سيمه او وطن کښې ئې په زرګونو پښتانۀ ځوانان وروزل کۀ په پښتانۀ په دې دنيا وجود درلود اروابناد کاکاجي به د تل دپاره زمونږ د تاريخ په پاڼو کښې ژوندے وي.

خدائے دې ورباندې ورحمېږي (امين)

## د اروابناد سرور خان کاکاجي د دوېم تلين دستوره

د روان ميلادي کال ۲۰۰۸ د جون د مياشتې په وړومبۍ نېټه د ساينس کالج کوئټې په ظريف شهيد تالار کښې د عوامي نېشنل پارټۍ د پخواني صوبائي صدر سرورخان اچکزي معروف کاکاجي د دوېم تلين په مناسبت يوه غونډه وشوه. سهار ۹ بجې د اروابناد کاکاجي دپاره قران خواني وشوه چې تر ۱۱ بجو پورې ئې دوام درلود او بيا وروسته په ظريف شهيد تالار کښې يوه درنه غونډه وشوه. په غونډه کښې د ضلع کوئټې پرته د نورو ضلعو څخه د عوامي نېشنل پارټۍ او پښتون ايس ايف ګڼ شمېر ملګرو برخه لرله. غونډه د عوامي نېشنل پارټۍ صوبائي صدر کمانډر خدائيداد خان په صدارت کښې وشوه. د غونډې مشر مېلمه د عوامي نېشنل پارټۍ پخوانے مرکزي جنرل سيکرټري ډاکټر عنايت الله خان ؤ. په غونډه کښې هر يوه په خپل وار د ضلع قلعه سيف الله صدر انجنيئر حافظ، ضلع قلعه عبدالله صدر لالا خان، د ضلع کوئټې صدر حاجي عبدالستار کاکړ، د عوامي نېشنل پارټۍ صوبائي نائب صدر سلطان کاکړ، د نېشنل لائرزفورم مشر ارباب غلام ايډوکېټ، صوبائي جنرل سکرټري داؤد خان ايډوکېټ، د عوامي نېشنل پارټۍ صوبائي پارليماني ليډر انجنيئر زمرک خان اچکزے، مرکزي نائب صدر نواب ارباب عبدالظاهر کاسي د غونډې مشر مېلمه ډاکټر عنايت الله خان او صوبائي صدر کمانډر خدائيداد خان خپلې خپلې وېناوې وکړې.

ټولو وېنا کوونکو په خپلو تقريرونو کښې د اروابناد سرور خان کاکاجي په ژوند او مبارزه رڼا واچوله. دوي ووئيل چې کاکاجي ټول ژوند د فخر افغان باچاخان او رهبر تحريک خان عبدالولي خان کلک ملګرے ؤ. اروابناد کاکاجي د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې د باچاخان د تحريک سره وفادار پاتې شو.

ډېر کړاوونه ئې برداشت کړل خو سره جنډه ئې اوچته وساتله. دغه ډول دغه تعزيتي غونډه غرمه ۲ بجې پائے ته ورسېده او بيا له ساينس کالج څخه د صوبائي پارټۍ له پلوه د "امن" دپاره لاريون وشو چې په کوټه ښار کښې وګرځېدل او بيا وروسته ساينس کالج ته راستانۀ شول او په ساينس کالج کښې په شرکاء کښې لنګر تقسيم شو.